مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

یکشنبه د ۱۳۹۹ د مرغومي ۱۴مه | د ۲۰۲۱ د جنوري دریمه | ۶۵۶مه ګڼه

د مذاکراتو دویم پړاو؛

منصور: طالبان په یوه کور نه راضي کېږي، موقت حکومت د حل لار ده

۳

د جمهوریت کمزوری او وېشلی پلاوی بیا سختو خبرو ته ورځي

۲ مخ

ایا ۲۰۲۰ز کال د تاریخ تر ټولو بد کال و؟

۲ مخ

د اسیا د خوندیتوب مفکوره د دې سیمې خوندیتوب او پرمختګ تضمینوي

۳ مخ

مصالحې عالي شورا: د سولې دویم پړاو مذاکرات به ښې لاسته راوړنې ولري

په داسې حال چې د افغانستان د اسلامي جمهوریت او طالبانو د مذاکراتي پلاوو د رخصتۍ پای ته رسېږي، د سولې دویم پړاو خبرو د پیل په اړه هیلې ډېرې شوې دي.
د ملي مصالحې عالي شورا په قطر کې د سولې خبرو د دویم پړاو په پیلېدو سره د ښو لاسته راوړنو خبره کوي. د دولت د سولې مرکچې پلاوي له طالب استازو سره په دوحې کې د خبرو تر لومړني پړاو وروسته شاوخوا درې اونۍ په کابل کې د ولسمشر اشرف غني په ګډون د بېلابېلو اړخونو سره سلا مشورې وکړې.
د ملي مصالحې د عالي شورا ویاند فریدون خوځون وایي چې دغه پلاوي ته لازمې سپارښتنې شوې دي.
هغه زیاتوي: «لارښود یې ترلاسه کړ، د رهبري کمېټې له لوري، دوی چې کومې پوښتنې درلودې هغه هواري شوې. د مذاکراتو اساسي خطوط ورته روښانه شول. د پلاوي صلاحیتونه او دا ټول مسایل واضح شول. دا پلاوی به ښه ملاتړ ولري او پر کومو مسایلو چې توافق کېږي، ښې لاسته راوړنې به ولري.»
ټاکل شوې چې د دولت د سولې مرکچې پلاوی د جنوري پر پنځمه(سبا) په دوحه کې له طالب استازو سره د خبرو دویم پړاو پیل کړي.
د یادونې ده چې د سولې د لومړي پړاو مذاکراتو له پای ته رسېدو سره سم دواړو لورو یو او بل ته د اجنډا په خپل پېشنهادي موضوعات هم وړاندې کړي دي. په دغو مذاکراتو کې د جمهوریت پلاوی پر اوربند او طالبان د نظام په ډول ټینګار لري.

عامې روغتیا وزارت: د کرونا نوې بڼې د تشخیص د تجهیزاتو نشتوالي اندېښمن کړي یو

۲ مخ

پوهنتون

۴ مخ

سادات د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

سادات د لوړو زده کړو خصوصي موسسې خپلې رسمي چارې په ۱۳۸۷ لمریز کال کې د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت په منظوری په مزار شریف ښار کې پیل کړې دي.

ساپي: په ننګرهار کې د ۸.۲ میلیونه افغانیو په لګښت ۱۵ شنې خونې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې

د کرنې او مالداری وزارت له خوا د ننګرهار د روداتو په ولسوالۍ کې د لوړ ارزښت لرونکو کرنیزو محصولاتو د دودولو او د کوکنارو د کرکېلې او تولید د مخنیوي په پار، ۱۵ شنې خونې جوړې او ګټې اخیستنې ته سپارل شوې دي.
د ننګرهار والي ضیاءالحق امرخېل په دې اړه جوړې شوې ناستې ته وویل، د کرنې وزارت د کرنې د ودې او کلیوالي پراختیا پروژې له لارې په دغه ولایت کې د ۴۵۰ شنوخونو د جوړولو چارې پیل شوې، چې له دې ډلې تر دې دمه ۱۵۰ شنې خونې جوړې شوې او د پاتو هغو رغنیزې چارې ۳۰ سلنه بشپړ شوې دي.
دغه راز د یاد ولایت د کرنې رییس انعام الله ساپي وایي، چې د روداتو په ولسوالۍ کې د ۸.۲ میلیونه افغانیو په لګښت ۱۵ شنې خونې، چې هر یوه یې ۳۰۱ مترمربع پراخوالی لري، جوړې او ګټې اخیستنې ته سپارل شوې دي.

خبرنګاران: حکومت در تأمین امنیت خبرنګاران ناکام است

در پی افزایش رویدادهای قتل هدفمند خبرنگاران، دیروز وزارت اطلاعات و فرهنگ و شماری از خبرنگاران در یک نشست در کابل گردهم آمدند و در این‌باره ابراز نگرانی کردند. به گفتهٔ آنان، حکومت به ویژه نهادهای امنیتی در کار تأمین امنیت خبرنگاران ناکام استند.
طاهر زهیر، سرپرست وزارت اطلاعات و فرهنگ گفت که نامه‌یی را به دفتر نماینده‌گی سازمان ملل در افغانستان و اتحادیه اروپا خواهد فرستاد و از آنان خواهد خواست که بر گروه‌هایی که خبرنگاران را هدف قرار می‌دهند فشار وارد کنند تا دست از این کار بر دارند: «حد اقل در چند کیلومتری و چند قدمی مراکز مهم سیاسی و امنیتی کسی به قتل نرسد.» شماری از خبرنگاران در واکنش به اعلامیهٔ ارگ در پیوند به ترور بسم‌الله عادل، خبرنگار در غور می‌گویند که حکومت تنها در حد شعار برای آزادی بیان و تأمین امنیت خبرنگاران کار کرده‌است.
بصیر فطری، یکی از این خبرنگاران بیان داشت: «هیچ‌گاهی این‌ها در عمل به این کار مبادرت نورزیدند و صرف در سطح گفتار بوده.» در دوماه گذشته یما سیاوش در کابل، ملاله میوند در ننگرهار، الیاس داعی در هلمند، رحمت‌الله نک‌زاد در غزنی، بسم‌الله عادل ایماق در غور و شمار دیگری از فعالان رسانه‌یی و جامعهٔ مدنی ترور شده‌اند.
سفارت امریکا در کابل، ادامهٔ ترور خبرنگاران را نکوهش کرده و خبر جان باختن بسم‌الله عادل را تکان دهنده گفته‌است. طارق آرین، سخن‌گوی وزارت امور داخله گفت: «ما سر رفع تهدیدها بر خبرنگاران جامعهٔ مدنی و حقوق‌بشر جداً کار می کنیم.»

Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

Aksos Book Store

Add a Book to Your Life

دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

Aksos Book Store

سرلیکنه

د جمهوریت کمزوری او وېشلی پلاوی بیا سختو خبرو ته ورځي

ټاکل شوې چې د افغانستان د اسلامي جمهوریت مذاکراتي ټیم سبا دوحې ته ولاړ شي او هلته له طالبانو سره د سولې خبرې بیا پیل کړي. دواړو لورو له اوږدو بحثونو او سختو فشارونو وروسته د خبرو پر اصولو او کړنلارې هوکړه کړې او د خبرو د اجنډا په اړه یې لومړني بحثونه هم کړي دي. اوس به دواړه اړخونه هڅه کوي چې د خبرو پر اجنډا توافق وکړي او بیا به اصلي بحثونو ته داخلېږي.

دا ځل به بیا بحثونه سخت، ستونزمن او لانجمن وي؛ ځکه چې له یوه اړخه د سولې په تړاو د دواړو لورو په ارادو او نیتونو کې ستونزې شته او له بله اړخه د دواړو لورو د غوښتنو ترمنځ هم واټن زیات دی. حکومت غواړي چې طالبان اوربند ومني، خو طالبان د نظام پر څرنګوالي، د اوسني حکومت پر برخلیک او د خپلو نورو بندیانو پر خوشې کولو ټینګار کوي. د دې ترڅنګ، دا خبرې په داسې وخت کې بیا پیلېږي چې په امریکا کې د واک لېږد ته تیاری روان دی او لا هم معلومه نه ده چې بایډن د افغانستان په تړاو د ټرمپ تګلاره همغسې مخ ته بیایي او که به څه بدلونونه پکې راولي، ځکه چې تر اوسه بایډن په دې اړه څه نه دي ویلي.

د سولې بین الافغاني خبرې په ښکاره د دوو افغاني لورو ترمنځ دي، چې یوه اړخ ته یې د اشرف غني تر واکمنۍ لاندې حکومت او بل لوري ته یې هم طالبان دي، خو په واقعي مانا دا بین الافغاني خبرې نه دي؛ ځکه چې دوی د امریکایانو، قطریانو او نورو بهرنیانو تر ژور فشار لاندې خبرې مخ ته بیایي. د دواړو اړخونو ترمنځ فضا داسې ده چې که په خپل منځ کې سره پرېښودل شي او بهرنی فشار نه وي، نو کلونه کلونه به هم پر وړو مسایلو توافق ته ونه رسېږي. دغه روحیه خنډ جوړوي او هر ځل دا خنډ د بهرنیانو په ځانګړې ډول امریکایانو په فشار سره له مخې لرې کېږي. پر اصولو او کړنلاره توافق نه کېده او بحثونه ډېر اوږده شول، خو چې کله د امریکایانو فشار راغی، نو بیا توافق وشو. داسې ښکاري چې له دې وروسته به هم همدا حال وي.

په دې خبرو کې یوه بله لویه ستونزه دا هم ده چې د جمهوریت ټیم متحد او پیاوړی نه دی. که څه هم بیا بیا ویل شوي چې دا پیاوړی او متحد ټیم دی، خو د دوی په منځ کې اختلافات دي او ځینې غړي خو یې د سولې او د ستونزو د حل د لارو چارو په اړه ابتدایي معلومات هم نه لري. د دوی په منځ کې اختلافات تل وي، خو دوی هڅه کوي چې پټ یې کړي. له دې سره سره بیا هم د دوی ترمنځ اختلاف رامنځ ته کېږي چې همداسې یو اختلاف پر اصولو او کړنلاره له لومړني توافق وروسته راڅرګند شو او دا دی اوس یو ځل بیا د ټیم او حکومت د دریځ خلاف د ټیم یوه غړي حفیظ منصور ویلي چې د اوسني نظام او ارزښتونو د ساتنې لپاره له موقت حکومت پرته بله لاره نشته. موقت حکومت هغه څه دی چې اشرف غني بیا بیا رد کړی دی.

همدې ته په کتو سره د جمهوریت یو کمزوری، وېشلی او غیر منسجم پلاوی یو ځل بیا د سولې خبرو ته ورځي چې په طبیعي ډول به هم د جمهوریت پر دریځ او هم د سولې پر خبرو اغېز ولري.

ایا ۲۰۲۰ز کال د تاریخ تر ټولو بد کال و؟

بي‌بي‌سي- پښتو

ډېرو ته ۲۰۲۰ بدمرغه، غمجن او له کړاوه ډک کال و. ځینو ان دا د ټول تاریخ تر ټولو بد کال بللی دی، خو که تاریخ ته یو ځغلنده نظر وکړو، پر دې به پوه شو چې کېدای شول ۲۰۲۰ ز کال تر دې لا ډېر بدتر شي، نو له همدې کبله ښایي د هغو نعمتونو او مهربانیو شکر ادا کړو، چې پر موږ لورول شوي دي.

راځئ په ۲۰۲۰ز کال کې په نړۍ کې ځینو رامنځته شویو ناوړه پېښو ته بیاکتنه وکړو او بیا یې له نورو تاریخي پېښو سره پرتله کړو.

۲۰۲۰ز کال کووېډ-۱۹ ډېر خلک مړه کړل

د وروستیو شمېرو له مخې، په ټوله نړۍ کې له ۸۴ میلیونو ډېر کسان پر کرونا وېروس اخته پېژندل شوي او له ۱۸۳زرو ډېر ترې مړه شوي دي، خو د کووېډ-۱۹ د مړینو شمېر د نړۍ له تېرو نورو وباګانو ډېر واټن او توپیر لري.

تور طاعون چې تور مرګ هم بلل کېده، له ۱۳۴٦ تر ۱۳۵۰ کال پورې یوازې په اروپا کې ۲۵ میلیونه او په ټوله نړۍ کې شاوخوا ۲۰۰ میلیونه کسان ووژل.

اسپانوي او پرتګالي پلټونکو له ۱۵۲۰ کال وروسته د تنباکو دغه ناروغي امریکا ته له ځان سره ولېږدوله، چې د دې لویې وچې له ٦۰ تر ۹۰ سلنه کلیوال اوسېدونکي یې له منځه یووړل.

اسپانوي انفلونزا په ۱۹۱۸ز کال له لومړۍ نړیوالې جګړې کورونو ته له ستنېدونکو سرتېرو خپره شوه او څه ناڅه ۵۰ میلیونه کسان ترې مړه شول، چې هغه مهال د نړۍ له ۳ تر ۵ سلنې وګړي کېدل. له ۸۰ یمې لسیزې راهیسې چې د اېچ ای وي/اېډز وبا پیل شوې، د نړۍ په کچه یې ۳۲ میلیونه کسان مړه کړي دي.

۲۰۲۰ز کال کې ګڼ خلک بې کاره شول

د کرونا ویروس وبا اقتصادي زیانونه ډېر پراخ وو او د نړۍ په لر او بر کې یې د خلکو ژوند اغېزمن کړ، خو له دې سره سره، د بېکارۍ کچه تر اوسه له ۱۹۲۹ تر ۱۹۳۳ز کال پورې د ستر مالي ځوړ اندازې ته نه ده رسېدلې. په دغو کلونو کې ۱۹۳۳ز کال تر ټولو ډېر ستونزمن و.

په جرمني کې له هرو دریو یو کس بېکاره شو او د اډولف هېټلر په نوم یو پوپولېست سیاستوال واک ته ورسېد.

په۲۰۲۰ کال له ملګرو لېرې پاتې شوو

هو دا سمه ده، چې د کال ډېره برخه پر کور او له ملګرو او خپلوانو لېرې پاتې شوو، خو په ۵۳٦ کال کې د نړۍ ډېرو خلکو ان اسمان هم نه شو لیدلی.

په هارورډ پوهنتون کې د منځنیو پېړیو د تاریخپوه او لرغونپوه مایکل مک کورمېک په وینا، اروپا، منځنی ختیځ او د اسیا ځینې برخې ۱۸ میاشتې په مرموزه ګردله کې ډوبې وې او شپه او ورځ تیاره وه.

د هغه په وینا، دا موده که پر ځمکه د ژوند لپاره تر ټولو بده نه وه، لږ تر لږه له بدترو یوه حتماً وه، خو په ۲۰۲۰ز کال کې خو مو لږ تر لږه شین اسمان لیدلی شو.

دا دوره په تېرو ۲۳۰۰ کلونو کې د ځمکې لپاره له ټولو د سړو لسیزو پیلامه وه، چې کرنیز محصولات یې له منځه یووړل او خلک یې له لوږې او قحطۍ سره مخامخ کړل.

دا پېښه ښایي په ایسلنډ یا شمالي امریکا کې د اورشیندي د فعالېدو له کبله وي، چې ایرو یې نیمه شمالي کره په بشپړه توګه پوښلې وه. ویل کېږي بادونو د دغه اورشیندي ګردله او لوګي ټولې اروپا او تر هغې وروسته اسیا کې خپاره کړل، چې همدا د تودوخې یو ناروین زېروونکی لامل هم و.

په ۲۰۲۰ز کال کې مو بهرني سفرونه وځنډېدل

په دې کې شک نشته چې ۲۰۲۰ز کال په ټوله نړۍ کې د سیل صنعت لپاره ښه کال نه و، خو که له دې ډېر ناخوښه یاست چې پر کورونو ایسار پاتې شوي یاست، د نیکونو په اړه فکر وکړئ.

انسانان له ۱۹۵ زره کلونو راهیسې د سفر له محدودیتونو سره مخامخ دي. پر نړۍ لسګونه زره کاله وچه او سړه هوا حاکمه وه چې د اېزوتوپ ٦ سمندري پړاو یې بولي.

د هیومن اوریجنز موسسې د پروفیسور کرتیس مارین په ګډون ځینې پوهان پر دې باور دي چې د دې دورې وچکالۍ د انسانانو نسل تقریباً له نړۍ ورک کړ.

هغه وایي، بشر د سویلي افریقا کڅونو ته په پناه وړلو سره وژغورېد او پر دې ځای یې د جنت بڼ مستعار نوم کېښود چې وړ یې هم و. انسان همدلته زده کړل چې له سمندره خوراک برابر کړي.

د ۲۰۲۰ز کال یوې چاودنې د بېروت بندر ویجاړ کړ

د اګست د څلورمې دا چاودنه په ناسم ډول د ۲۷۵۰ ټنه امونیم نایتریت د زېرمه کېدو له کبله وشوه. دې چاودنې ۱۹۰ کسان ووژل او تر ٦ زرو ډېر نور پکې ټپي شول. شنونکو دا د نړۍ په تاریخ کې تر ټولو ستره غیر اټومي چاودنه وبلله، چې د زر ټنه ټي این ټي توکو له چاودنې سره برابرېږي، خو د ۱۹۸۴ز کال په ډسمبر کې د هند په بوپال ښار کې د کېمیاوي توکو د یوه کارځای د سوري کېدو له کبله زرګونه کسان مړه شول، چې دا د معاصر تاریخ له ناوړه صنعتي ناورینونو ګڼل کېږي.

د هند حکومت وایي، شاوخوا ۳۵۰۰ کسان په څو لومړیو ورځو او ۱۵۰۰ نور په څو کلونو کې د سړو د زیانمنېدو له کبله مړه شول.

د دغه ښار پر فضا حاکمې مرګونې لړې (غبار) لسګونه کاله دوام وکړ او اوس هم داسې کسان شته چې له زیانونو سره یې لاس ګریوان دي.

په ۲۰۲۰ز کال کې په استرالیا کې ځنګلي اورلګېدنو ۳ میلیارده ژوي مړه یا بې سرپناه کړل

د اور سترو لمبو چې تېر اوړی یې په استرالیا کې ۳۳ کسان هم تر ستوني تېر کړل، په دغه هېواد کې د ژویو د ژوند او ژواک د ځانګړې چاپېریال ستره برخه ویجاړه کړه. څاروي، الوتونکي، خځندې او چونګښې د دغه اور لمبو کې لولپه شوې او یا یې د اوسېدو د ځای د له منځه تلو له کبله پخپله هم له منځه ولاړل.

اوس هم فکر کوئ کال مو بد وو؟

د ۱۹۲۳ز کال په سپټمبر کې زلزلې د اور توپانونه او آن د لمبو بړېوکې رامنځته کړې چې په توکیو او یوکوهاما کې یې ۱۴۰ زره کسان ووژل. هو انسانان، نه کولا یا نور ژوي.

د هیلو دریځې

۲۰۲۰ رښتیا هم له ډېرو اړخونو د ستونزو او ربړو کال و. د کرونا ویروس وبا ټولنیز واټن او انلاین پلورنو ته اړ کړو. محدودیتونو، ضد عفوني کولو او د ځنګلو په جنګولو سره ستړي مه شي نور ستړي کړو، خو راځئ د دې پر ځای چې خپګان وکړو او پر ټولنیزو پاڼو کښته پورته وګرځو، پر مثبتو شیانو متمرکز شو.

۲۰۲۰ز کال داسې کال و چې په سیاسي ډګر کې د ښځو حضور پکې پراخ او پیاوړی شو. په دې کال نړۍ کې د هغو هېوادونو شمېر چې مشري یې ښځې کوي، ۲۰ ته ورسېد.

د ملګرو ملتونو په وینا، دغه کال په پارلمانونو کې د ښځو استازولي تر ۲ برابرو اوښتې ۲۵ سلنه څوکیو ته رسېدلې ده.

داسې کال و چې کماله هرېس هم پکې د لومړنۍ ښځینه، تورپوستې او د سویل ختیځې اسیا له ار او اصل سره د امریکا د مرستیالې ولسمشرۍ په توګه ټاکل کېدو سره تاریخ سازه شوه.

د نړۍ په ګوټ ګوټ کې خلکو د نابرابرۍ او بې عدالتۍ پر خلاف لاریونونه او اعتراضونه وکړل او په دې توګه یې په راتلونکي کې د مثبتو بدلونونو زېری راوړ.

۲۰۲۰ز کال د چاپېریال لپاره یو ښه کال و. ډېرو هېوادونو ومنله چې د کاربن ډای اکسایډ د تولید کچه راټیټه کړي.

ملګري ملتونه وایي، په دغه کال کې د هغو هېوادونو او کپمنیو شمېر دوه برابره شو، چې د شینکوریزه ګازونو د صفر کولو ژمنه یې کړې ده. په دغو کمپنیو کې د فېسبوک، فورډ، مرسیډیز په څېر مشهور نومونه هم راځي.

نور هم غواړئ؟ دغه کال ناسا اعلان وکړ د اوبو اندازه چې د سپوږمۍ پر سطحه پېدا شوي، تر هغې ډېره ده چې پخوا یې اټکل شوی و. دا موندنه کولی شي زموږ له راتلونکو څېړنیزو ماموریتونو سره مرسته وکړي.

بېرته ځمکې ته راګرځو، باید هیله من واوسو چې د ۲۰۲۰ز کال وبا موږ انسانانو ته ډېر څه را زده کړي هم دي. له دې کارونو یو چې په ډاډمنه توګه یې یادولی شو، پاکي او د لاسونو مینځل دي.

عامې روغتیا وزارت: د کرونا نوې بڼې د تشخیص د تجهیزاتو نشتوالي اندېښمن کړي یو

عامې روغتیا وزارت وایي، هېواد ته د کرونا ویروس د نوي ډول راتلو په اړه اندېښمن دي او له خلکو غواړي چې روغتیایي سپارښتنې په پام کې ونیسي.

یاد وزارت د کرونا ویروس د خپرېدو د مخنیوي په خاطر د جدي تدابیرو د خبر ورکولو ترڅنګ وایي، چې د دغه ویروس د دویم ډول تشخیص لپاره تجهیزات نه لري.

د عامې روغتیا وزارت مرستیال ویاند معصومه جعفري وایي، د کرونا ویروس دویم ډول ګاونډیو هېوادونو ته را رسېدلی دی. هغې زیاته کړه: «اوس نړۍ کې د کرونا ویروس دویم ډول خپور شوی، چې تر هند او پاکستانه رسېدلی، نو د همدې لپاره له خلکو مو غوښتنه دا ده چې چې سفرونه کم کړي، څو هېواد ته د دې ویروس د نوي ډول له انتقال څخه مخنیوی وشي.»

د یاد وزارت چارواکي وایي، اندېښمن دي چې په وروستۍ یوې اونۍ کې د کرونا ویروس د دویمې څپې له امله مړینه زیاته شوې، نو دغه وزارت وایي چې باید خلک روغتیایي سپارښتنو ته جدي پاملرنه وکړي.

دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان دولت له کرونا ویروس سره د مبارزې برخه کې په بهرنیو مرستو ولاړ دی.

د هېواد دننه ځینې نیوکې مطرح شوې چې دا مرستې په ښه توګه نه کارول کېږي. د افغان دولت رسمي راپورونو هم دا مسئله تر یو ځایه منلې ده. ولسمشر غني تر دې دمه دوه وزیران او روغتیایي چارواکي له دندو ګوښه کړي دي.

په ورته وخت کې یو شمېر ډاکټران هم د کرونا ویروس د چټکې پراختیا او د دې ناروغۍ د لا خپرېدو د مخنیوي د مدیریت په څرنګوالي نیوکې کوي.

ډاکټر پرویز اقبال د روغتیایي سپارښتنو په عملي کولو ټینګار کوي. اقبال زیاته کړه: «له بده مرغه هغه کیټونه چې د دې ډول لپاره جوړ شوي، د تشخیص امکانات نه لري، د کرونا دویمه څپه ډېره خطرناکه ده، هغه خلک چې زاړه دي، د زړه، شکر او تنفسي ناروغۍ لري، کوښښ دې وکړي چې تل ماسک وکاروي، لاسونه په صابون پرېمېنځي او خپل پاکوالی په پام کې ونیسي.»

د ازي پي (AZIPAY) پرمختللې بڼه

عزیزي بانک خپلې د ازي پي بټوې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بایومټریک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګلیسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنۍ ستېټمنټ لیدل، د صرافۍ خپلکاره ماشین څخه د ازي پي پرمټ د کارت پرته پیسې وېستل، د مبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د مبایل شمېرې ته کریډیټ زیاتول، د بل ادا ینه او نورې برخې وړاندې کوي

مهرباني وکړئ نوې بڼه یې له اپسټور او پلې سټور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ.

عزیزی بانک
Azizi Bank

1515 www.azizibank.af

د اسیا د خوندیتوب مفکوره د دې سیمې خوندیتوب او پرمختګ تضمینوي

لیکنه: شي مونګ
ژباړه: زرینه - د چین مېډیا ګروپ د پښتو څانګې خبریاله

اسیا چې نفوس یې د ټولې نړۍ نږدې ٦٧ سلنه او اقتصادي حجم یې د ټولې نړۍ یوه پر درېیمه برخه جوړوي، د نړۍ لپاره یې اهمیت ډېر څرګند دی. د اسیا سوله‌ییز او باثباته پرمختګ پر ټولې نړۍ اغېز لري. د دې ترڅنګ، اسیا غني او رنګا رنګ کلتورونه او تمدنونه لري، د دې وچې هېوادونه یو له بل سره د اقتصادي او ټولنیزې ودې توپیرونه لري او په مختلفو پړاوونو کې قرار لري، خو دوی ته په ډېرو برخو کې ګډ ګواښونه متوجې دي؛ لکه، د جیوپولیټیکي اړیکو په برخه کې، په امنیتي برخه کې او دغه راز په غیر امنیتي برخه.

«درې قدرتونه» (زورغواړي او ترهګر، ملتپاله بېلتون غوښتونکي او مذهبي تُندلاري) د اسیا د بېلابېلو هېوادونو پر وړاندې ګډ ګواښونه بلل کېږي. بېلابېل اسیایي هېوادونه له ډېر پخوا د یادو دریو قدرتونو له امله زیانمن دي.

دغو قدرتونو ډېرې ترهګریزې پېښې طرحه او جوړې کړې او نه یوازې دا چې د اسیا لویې وچې د اوسېدونکو سر او مال ته یې زیانونه رسولي، بلکې پرمختګ او ښه ژوند ته د رسېدو په لاره کې یې د دوی هڅې له خنډونو سره مخ کړې دي. امنیت د پرمختګ بنسټ دی، له امنیت پرته پرمختګ ناممکن دی .

ځینې هېوادونه اسیا په نړۍ کې د خپلې زور ازمویني میدان او د بادارۍ غوښتنې وسیله ګڼي او د یادو سر زورو هېوادونو کړنې د سیمې د هېوادونو ګټې زیانمنې کړې دي. اسیا په نړیوال سیاست کې مهم ځای لري، له سیمې ور ها خوا ځینې هېوادونه اسیا په نړۍ کې د خپل زور ښودلو میدان او پر نورو د بادارۍ ور تپلو د وسیلې په توګه کاروي.

دوی د اسیایي هېوادونو ترمنځ یووالی نه، بلکې بې اتفاقي غواړي، ان په اسیایي هېوادونو کې یې د خپلو ګټو په موخه نفاق رامنځته کړی. د اسیا د بېلابېلو هېوادونو ګډ امنیت او ګډ پرمختګ هر وخت د یادو هېوادونو له لوري د اچول شوو تفرقو له خطرونو سره مخ دی او باید اسیایي وګړي ډېر متوجه، هوښیار او بېدار اوسي.

شک نشته چې په ګډ امنیت کې د هرچا ګټې تحقق مومي او ټول به سوکاله وي. اسیایي هېوادونه د مساحت، نفوس او اقتصادي او ټولنیز پرمختګ له لحاظه یو له بل سره توپیر لري، خو ټول یې امنیت او پرمختګ ته ګډه اړتیا او مسوولیت لري. چین همېشه هغه نظر عملي کوي چې هېوادونه که لوی وي که واړه، په نړیوالو اړیکو کې ټول مساوي حقونه لري، خو ځینې هېوادونه د نورو مهمو ګټو او غوښتنو ته له پام پرته، یوازې خپل امنیت ته پام کوي او د خپلو ګټو لپاره ان د نورو په کورنیو چارو کې مداخله کوي.

د ۲۰۱۴ز کال په مې کې د چین د دولت رییس شي جین پېنګ د اسیا د متقابلې همکارۍ او باور د جوړولو اقداماتو په څلورمه سرمشریزه غونډه کې یوه وینا وکړه، چې عنوان یې و، (د امنیتي همکارۍ د نویو پرمختګونو لپاره د اسیا د خوندیتوب په اړه نوې مفکوره). نوموړي د دې وینا پر مهال اعلان وکړ چې په اسیا کې د مشترک، هراړخیز، همکاریز او دوام لرونکي امنیت ساتل اړین دي. دغې مفکورې د اسیا د امنیت ساتلو یوه داسې لار په ګوته کړې چې بېلابېل لوري په ګډه خپل امنیت تامینولای شي، په ګډ امنیت کې د ټولو ګټې خوندي دي.

امنیت د بېلابېلو اسیایي هېوادونو ګډه اړتیا ده او سربېره پردې، د امنیت ساتلو په برخه کې مشترک مسوولیت لري. دا نا ممکنه ده چې یو لوری دې امن وي او نور دې نا امن وي، هېڅوک باید اجازه ونه لري چې د سیمې امنیت په خپل انحصار کې واخلي. اسیایي هېوادونه اوسمهال له ډېرو پېچلیو امنیتي ګواښونو سره مخ دي او دغه ګواښونه هم په امنیتي برخه کې موجود دي او هم په غیرامنیتي برخه؛ لکه په اقتصادي، انټرنېټي، روغتیایي او داسې نورو برخو کې. د سیمې هېوادونه دې تقابل نه، بلکې خپلمنځي همکارۍ پیاوړې کړي او په ټول توان دې د دریو قدرتونو مخنیوی وکړي؛ ځکه که د اسیا د یو هېواد امنیتي وضعیت هم خراب وي، نو د نورو اسیایي هېوادونو امنیت به هم تر ډېرو منفي اغېزو لاندې راشي. پردې برسېره، اسیایي هېوادونه دې د امنیت ساتلو په عین وخت کې پرمختګ ته هم پاملرنه وکړي، څو دوامدار امنیت رامنځته شي. شي جین پېنګ په خپله یاده وینا کې هم دې ته په اشارې سره وویل چې د زیاترو اسیایي هېوادونو لپاره پرمختګ د ډېر امنیت مانا لري او پرمختګ د سیمې د امنیتي ستونزو د حل کیلي هم ده.

چین همېشه له ګاونډیانو سره ښه چلند کوي او ښه ملګرتیا ساتي او د خپل پرمختګ ګټې له اسیایي هېوادونو، په تېره بیا ګاونډیو هېوادونو سره شریکوي. له پخوا راهیسې یې د افغانستان له سولې او پرمختګ څخه ټینګ ملاتړ کړی او په بېلابېلو برخو کې یې له افغانستان سره تر وسې پورې مرستې کړې او کوي یې؛ ځکه د چین په نظر دواړه هېوادونه په امنیت او نورو برخو کې د ګډ برخلیک په یوه ټولنه کې قرار لري. چین او افغانستان دې لاس یو کړي، خپلمنځي همکارۍ دې لا پیاوړې کړي، متقابل باور دې لاټینګ کړي او په ګډه دې د اسیا د خوندیتوب مفکوره عملي کړي، څو ګډ امنیت او ګډ پرمختګ رامنځته شي.

د مذاکراتو دویم پړاو؛

منصور: طالبان په یوه کور نه راضي کېږي، موقت حکومت د حل لار ده

د بین الافغاني مذاکراتو د دویم پړاو د پیل په درشل کې د حکومت مذاکراتي پلاوی وایي چې ښایي دا پړاو له ګڼو خنډونو او ستونزو ډک وي. د مذاکراتي پلاوي غړو په تازه څرګندونو کې ویلي چې دوی د مذاکراتو په دې پړاو کې پر اوربند ټینګار کوي، خو داسې ښکاري چې طالبان به تر هر څه وړاندې د راتلونکي حکومت پر جوړښت خبرې وکړي.

د افغان مذاکراتي پلاوي یو شمېر غړي په دې باور دي چې موقت حکومت د جګړې د پای او توافق ته رامنځ ته کولو یوازینۍ لار ده او طالبان به په لږ شي قناعت و نه کړي. افغان حکومت له طالبانو سره پوره درې میاشتې مذاکرات وکړل، خو نه یوازې دا چې دغو مذاکراتو جګړې کمې کړې نه دي، بلکې برعکس جګړې شدیدې شوې او هره ورځ افغان انسان په کور د ننه د روانې جګړې له امله ځپل کېږي. په راتلونکو څو ورځو کې به د طالبانو او افغان حکومت ترمنځ دویم پړاو مذاکرات هم پیل شي او داسې تمه کېږي چې دا پړاو مذاکرات به اغېزناکې پایلې ولري او یا لږ تر لږه دلته به د جګړې اور یو څه کم کړي، خو دلته په کابل کې بیا د افغان حکومت مذاکراتي پلاوی پر دې باور دی چې ښایي طالبان د مذاکراتو د دویم پړاو پر مهال د امتیاز اخیستلو په موخه تاوتریخوالی ډېر کړي او جګړې شدیدې کړي.

د مذاکراتي پلاوي غړي حفیظ منصور پرون په کابل کې یوې غونډې ته د خبرو پر مهال وویل چې طالبان لا ډېر امتیازات غواړي، له همدې امله دوی هڅه کوي د دویم پړاو مذاکراتو پر مهال جګړې شدیدې کړي. منصور همدا راز وایي چې طالبان به په دارلامان کې د یوه کور پر ورکړه قناعت و نه کړي، نو یوازینۍ د حل لاره د موقت حکومت جوړول دي. حفیظ منصور وایي، د افغانانو بریا په دې کې ده چې اوسنۍ لاس ته راوړنې او نظام وساتي، نو د نظام د ساتلو لپاره اړ دي چې موقت حکومت ته غاړه کېږدي. د منصور په خبره: ((د اوسني نظام او نورو انساني ارزښتونو د ساتنې لپاره افغانان مجبور دي مؤقت حکومت ته غاړه کېږدي. له مقابل لوري څخه دا تمه چې هغوی به هم د حکمتیار په څېر د پخلاینې په بدل کې د کابل په دارلامان کې په یو کور راضي شي، غیر ممکنه ده)).

حفیظ منصور دغه راز وایي چې د مذاکراتو په دې پړاو کې د افغان حکومت د مذاکراتي پلاوي تر ټولو مهمه او لویه غوښتنه اوربند دی، خو طالبان به یې په بدل کې د نظام بدلون غواړي. د ده په خبره، طالبان د اسلامي نظام خبره کوي، خو له دې نظام واضح تعریف نه وړاندې کوي. هغه د خپلو خبرو پر مهال وویل: ((طالبان د اسلامي نظام خبره کوي، خو په دې اړه مناظرې او خبرو ته نه دي تیار. یوازې د اسلامي وروستاړي په یادولو سره خو اسلامي نظام نه جوړېږي. بل دا چې طالبان یوه اسلامي ډله نه ده، دوی د یوه حکومت په مقابل کې جګړه کوي، د ډېرو کړنو لپاره یې دیني دلیل نه شي راوړلی)).

حفیظ منصور دغه راز په کور د ننه هم د سیاسي جهتونو ترمنځ د واحد دریځ پر موجودیت خبرې کړې دي. نوموړي ویلي، د دې وخت دی چې په کور د ننه ټول اړخونه له ملي ګټو د دفاع لپاره د هېواد د راتلونکې او سولې په اړه واحد دریځ ولري او د ارګ او سپېدار تر منځ دې هم همغږي او اړیکې پیاوړې کړل شي.

د افغان حکومت مذاکراتي پلاوی داسې مهال دغه څرګندونې کوي، چې ټاکل شوې په راتلونکو ورځو کې په دوحه کې یو ځل بیا د بین الافغاني خبرو دویم پړاو پیل شي. سره له دې چې د نړیوالې ټولنې او افغان سولې د ګڼو ملاتړو هېوادونو غوښتنه په هېواد کې د اوربند تامین دی، خو طالبانو تر دې دمه د اوربند منلو ته غاړه نه ده ایښې.

د سپینې ماڼۍ او کانګرېس تازه ټکر؛

له استازو جرګې وروسته، د امریکا سنا هم د ټرمپ د دفاعي بودیجې د ویټو پرېکړه رد کړه

د امریکا د سنا مجلس غړیو د ولسمشر ټرمپ هغه پرېکړه د رایو په غوڅ اکثریت رد کړه، چې دفاعي بودیجه یې ویټو کړې وه.

په سنا په مجلس کې د ولسمشر ټرمپ د ګوند پلویان، جمهوري غوښتونکي اکثریت دي، خو په دې رایه ګیرۍ کې د سنا مجلس غړیو د ملي دفاع لپاره د ۷۴۰.۵ میلیونه ډالرو د اجازې ورکولو قانون تصویب کړ. دا قانون د امریکا پوځ ته د ۲۰۲۱ ز کال مالي کال لپاره بودیجه برابروي.

د سنا د مجلس په رایه ګیرۍ کې ۸۱ غړیو د دې قانون په طرفدارۍ او ۱۳ بیا مخالفې رایې ورکړې دي. د استازو په مجلس کې چې ډیموکراتان پکې اکثریت دي، د تېرې دوشنبې د ورځې په رایه ګیرۍ کې د ټرمپ د ویټو پرېکړه هم د رایو په غوڅ اکثریت رد شوې وه. هلته ۳۲۲ د لایحې په طرفدارۍ او ۸۷ د رد رایې ورکړل شوې وې. د کانګرېس دواړو خونو دغه لایحه تېر کال د ډسمبر په میاشت کې منظوره کړې وه او د توشیح لپاره یې ولسمشر ټرمپ ته استولې وه، خو ټرمپ په لایحې اعتراضونه درلودل او د ډسمبر د میاشتې په ۲۳مه یې دا لایحه ویټو کړه.

ټرمپ دا لایحه چین او روسیې ته تحفه بللې وه او ټینګار یې کاوه چې دا لایحه په افغانستان او جنوبي کوریا کې د امریکایي عسکرو د شمېر په کمولو کې د هغه د هڅو مخنیوی کوي.

ټرمپ همدرانګه ټینګار کاوه چې په لایحې کې دې د (سیکشن ۲۳۰) په نامه د فدرالي قانون لغوه کول هم شامل شي. په دغه قانون کې د انټرنېټ غټو شبکو لکه فېسبوک، ټویټر او ګوګل ته مالي خوندیتوب ورکول کېږي.

ټرمپ په وار وار په دې کمپنیو تور لګولی و چې د محافظ کارو افکارو خلاف نظر لري. له دې رای ګیرۍوروسته ټرمپ په ټویټر کې ولیکل: «زموږ د سنا مجلس جمهوري غوښتونکو د سیکشن ۲۳۰ د لېرې کېدو لپاره فرصت د لاسه ورکړ. دا قانون د ټکنالوژۍ غټو شرکتونو ته بې حده ځواک ورکوي.» خو بل پلو بیا د سنا په مجلس کې د جمهوري غوښتونکو د ګوند مشر مچ مکانل له دې رای ګیرۍ وروسته وویل چې د دفاعي بودیجې د قانون د تصویبېدو وخت رارسېدلی دی. مکانل ویلي: «دا زموږ لپاره فرصت دی چې خپلو زړورو عسکرو او د هغو کورنیو ته وښیو چې موږ یې تر شا ولاړ یو.» بلخوا بیا د استازو د مجلس مشرې نانسي پلوسي د سنا د مجلس له خوا د ټرمپ د ویټو د پرېکړې ردول ستایلي او دا کار یې په ښکاره توګه د ټرمپ رټل بللي دي.

پلوسي په یوې اعلامیې کې ویلي: «د دې پر ځای چې جمهور رییس امریکایان خوندي کړي، هغه د خپل جمهوري ریاست په وروستیو شېبو کې ګډوډي پیدا کوي او زمونږ امنیت کمزوری کوي.»

د کتـــاب خبـرې

د جاسوسۍ پېښلړ
RAW, ISI
او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او ادېتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

درېیمه برخه
کشمیر



۱۲

رټل شوی ډاکتر فاروق عبدالله

دولت: د کشمیر په تړاو چې غږېږو، زه ډاډه یم چې جنرال صېب او زه به له فاروق سره همکارۍ ته جوړ شو، موږ درې واړه به پر دې موضوع یو بل ته لاسونه سره ورکړو. د کشمیر په تړاو ډېر څه کېدای شي. که د ځینو دلایلو له مخې یوازې فاروق د منلو وړ نه وي، نو بیا پر دوو کسانو خو راټولېدای شو؛ فاروق او یو بېلتونپالی لکه پروفیسر غني. دوه موږ او دوه کشمیریان، موږ به په زړه پورې کار وکړو. د دې لپاره یوازې عقلانیت په کار دی .

دا خبره زما په سر کې راګرځي، فاروق له ډېرې مودې راهیسې پاکستان ته نه دی تللی، پکار ده چې خپل د حقیقت موندنې ماموریت لپاره پاکستان ته ولاړ شي.

دورانی: عجب تصادف. د ۱۹۹۰ کال په پاڅون لا څو ورځې نه وې اوښتې، موږ له ګېلګېټیانو او نورو سره غونډه درلوده.یو چا وړاندیز وکړ چې باید فاروق عبدالله را وبلل شي. د استېبلېشمېنټ خلک له دې نظریې سره وران وو، زه نه پوهېږم چې دا کار به څنګه کېده؟ ما په ټول ژوند کې یکي یو ځل له ده سره کتلي دي. هغه هم په لندن کې په «تېهلېکه کنفرانس» کې. د ده له ما سره خبرې کول زړه نه غوښتل، اخوا دېخوا یې کول. خو بلاخره ما چې ورسره خبرې وکړې، دی خوابدی نه و. زما په اند خو هغه د برهان تر مرګ په را وروسته وخت کې مثبتې خبرې وکړې. زما سلام ورته وایاست.

دولت: ټول وایي چې فاروق زما ملګری دی او ګواکې زه یې پر ملګرتیا تېروتی یم. زما دلیل دا دی چې فاروق یو داسې کشمیری دی چې د کشمیر پر پېژندلو سربېره، نوی ډیلی هم سم پېژني. دی د ډیلي او سرېنګر ترمنځ پل دی. دی اوس یوې داسې مرحلې ته رسېدلی دی چې باید پاکستان هم وپېژني، ډیلي خو یې لا له پخوا پېژندلی؛ نو ډېره مرسته کولای شي. د ده شتون به د کشمیر د مسئلې په هوارې کې زښته ډېره مرسته وکړي.

د ده نظریې ډېرې مشهورې دي، نوموړی بیا بیا دا خبره تکراروي چې له پاکستان پرته حل لارې ته رسېدای نه شي. پخوا یې کله داسې نه ویل. د نوي معرفت څرکونه لګېږي.

دورانی: که د دې کتاب تر چاپ وروسته دا کار وشي، نو زموږ خوشالي به په حقه وي. اصلي خبره دا ده چې دا یوه حل لاره ده. پخوا پر دې حل فکر شوی نه دی. دا پیسو او مالي ملاتړ ته اړتیا نه لري. تر دې چې موږ دواړه لاړ شو او خپلو د ملي امنیت شورا ګانو ته دا مشوره ورکړو، ښه به دا وي چې دا نظریه په یوه کتاب کې ولیکل شي. دولت: زه به یوه مفته مشوره درکړم، ډیلی به د کشمیر پر مسئلې د خبرو لپاره فاروق و نه ګوماري.یوازېنی لاره دا ده چې فاروق خان پاکستان ته لاړ شي او هلته چارواکي قانع کړي چې دی د کشمیر پر مسئله د مذاکراتو لپاره وړ کس دی. بیا به نو د پاکستان لومړی وزیر، یا لوی درستیز، یا د ISI رئیس او یا هم د ملي امنیت اداره او یا بل څوک دغسې وړاندیز وکړي. دا کار په دې ډول شونی دی.

دورانی: سمه خبره ده.« طریقہ یہی ہوتا ہے» مطلب حل لاره وي همداسې. که یو کار کول غواړې، نو باید داسې ښکاره شي چې دا د بل چا خبره ده.

دولت: ما ته ۲۰۰۲ کال را یاد شو، فاروق د شورا انتخابات بایللي وو.یو ناڅاپه یې پرېکړه وکړه چې پاکستان ته لاړ شي. د «ملي کانګرېس» غړی د کابینې وزیر «پرافول پټېل» به له ده سره یو ځای تلو. ده په ډیلي کې خپل استوګنځي ته رسنۍ ور وغوښتې او دا پرېکړه یې ورته اعلان کړه.ټول یې ګوته په غاښ کړل، ما وپوښت چې له لومړي وزیر سره یې په دې تړاو خبرې کړې دي، که نه؟ ده را ته وویل چې له موږ دواړو به اوس یو تن د لومړي وزیر لیدو ته ورځي.«اتل بیهاري واجپای» ورته بس همدومره ویلي وو: «څه خوری، اشتها مو څه ده؟» ځکه نو دغسې یو وړاندیز باید د پاکستان له خوا وشي، نه د ډیلي له خوا.

د ۲۰۱۷ کال په اپرېل کې ده په سرینګر کې د ټاکنیزو سیالیو ډګر ته را ودانګل او ټاکنې یې وګټلې، داسې اوازې وې چې د هند حکومت نه غواړي چې دی پارلمان ته لاره پیدا کړي. دا یو طنزیه ډول دی. د پاکستان دولت هم نه غواړي چې فاروق دې د پارلمان غړی شي. دا د بېلتونپالو پیغام دی. دوی د پاکستان په اوړو سپوږمۍ ګوري. دا د دوی د سیاسي فکر استازولي کوي: «ولې فاروق؟ دی بې باوره انسان دی. ده کومه توره کړې ده؟ د ده ټول خاندان (چې هغوی هم سیاسیون وو) کومه توره کړې ده؟ دوی د هند تله درنه تلي. شیخ صېب هم تر دوی کم نه دی.»

عجیبه او غریبه لا دا ده، فاروق ته لوی د عبرت درس د ده د پلار شیخ عبدالله او مېرمن ګاندي ترمنځ سوله وه. دوی په ۱۹۷۵ کې سره پخلا شوي وو. د ده نیکه ۲۳ کاله په زندان کې تېر کړل او بلاخره دا ورته اړینه ښکاره شوه چې باید له ډیلي سره سوله وکړي او بیا باید ټول عمر د ډیلي په ښې خوا کې و اوسېږي. په پیل کې ده یو نیم کال له ډیلي سره ښکر جنګول، خو په ۱۹۸۴ کال کې چې لرې کړل شو، ژور ټکان یې وخوړ.

نور سیاستوال به ښایي فاروق یو ټوکي بولي. دوی چې یې هر څه بولي، خو هغه له پامه نه شي غورځول کېدای، د هغه پر موجودیت سترګې نه پټېږي.ګورئ به چې په راتلونکو ۲۰۱۹ کال انتخاباتو کې به په اپوزېسیون ګوند کې ده ته مقام ورکړل شوی وي.

زه پر دې باور هم یم چې فاروق د بهرنیو چارو ډېر ښه وزیر کېدای شي.

دوام لري...

سادات د لوړو زده‌کړو خصوصي موسسه

حمیدالله حمیدي

سادات د لوړو زده‌کړو خصوصي موسسې خپلې رسمي چارې په ۱۳۸۷ لمریز کال کې د افغانستان د لوړو زده‌کړو وزارت په منظورۍ په مزار شریف ښار کې پیل کړې دي. د دې موسسې مالي او اداري مسوول محمد رستم دانش وایي، چې له ۱۳۸۷ لمریز کال راهیسې په یاده برخه کې فعالیت کوي او تر اوسه پورې یې د افغانستان له ټولو ولایتونو، په ځانګړې توګه شمالي ولایتونو یو زیات شمېر ځوانانو ته چې نارینه او ښځینه دواړه پکې شامل دي، د لوړو زده‌کړو زمینه برابره کړې ده. دی وایي، هڅه یې دا ده چې په اړونده برخه کې په لوړ معیار خلکو ته د زده‌کړو زمینه برابره کړي. دانش وایي، چې موسسه یې درې پوهنځي (شرعیات، انجنیري او کمپیوټرساینس) لري چې درې واړه فعال او محصلین پکې پر زده‌کړو بوخت دي. دی وایي، هر پوهنځی یې بیا په خپل چوکاټ کې اړوند ډیپارتمنتونه لري.

په سادات د لوړو زده‌کړو خصوصي موسسه کې د تدریس چارې پر کار پوه او مسلکي استادانو له خوا مخ ته وړل کېږي چې په خپل مسلک کې له پوره تجربې او مهارت څخه برخمن دي. د لوړو زده‌کړو د دې موسسې هڅه دا ده چې د مسلکي استادانو پر مټ ټولنې ته هم مسلکي او پر کار پوه کسان وړاندې کړي.

محمد رستم دانش وایي، چې په دریو واړو پوهنځیو کې یې د ۱۲۰۰ په شاوخوا کې محصلین پر لوړو زده‌کړو بوخت دي، چې له ډلې یې ۴۰۰ ښځینه او پاتې نور یې نارینه دي. دانش وایي، چې په دې موسسه کې د هېواد له بېلابېلو ولایتونو څخه محصلین پر لوړو زده‌کړو بوخت دي، چې ډېرې یې د هېواد د شمالي ولایتونو اوسېدونکي دي.

سادات د لوړو زده‌کړو موسسې تر اوسه پورې پوهنتون ته ارتقا نه ده کړې او نه یې هم هغه معیارونه پوره کړي چې د افغانستان د لوړو زده‌کړو وزارت په خصوصي پوهنتونونو کې د ماسټرۍ پروګرام پیلولو لپاره ټاکلي، نو محمد رستم دانش وایي، چې په کوم پوهنځي کې د ماسټرۍ پروګرام نه لري. دی وایي، په شرعیاتو او کمپیوټرساینس پوهنځیو کې یې د ماسټرۍ پروګرام پیلول په پنځه کلن ستراټېژیک پلان کې شامل دي. دی وایي، کله یې چې ټول اړین شرایط پوره کړل، نو په اړوندو پوهنځیو کې به د ماسټرۍ پرورګرام هم پیل کړي.

د سادات د لوړو زده‌کړو خصوصي موسسې له فعالو پوهنځیو څخه تر اوسه پورې ۲۴ دورې محصلین چې شمېر یې ۲۰۰۰ ته رسېږي، د لېسانس په کچه فارغ شوي او ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې شوي دي. د لوړو زده‌کړو د دې موسسې مالي او اداري مسوول محمد رستم دانش وایي، چې د فارغو شویو محصلینو په ډله کې یې ښځینه او نارینه محصلین دواړه شامل وو. دی وایي، چې فارغ شوي محصلین یې خپله په بلخ ولایت او د هېواد په نورو ولایتونو کې په دولتي او خصوصي ادارو کې په کار بوخت دي او یا یې هم خپله نورو خلکو ته د کار زمینه برابره کړې ده. دی وایي، هڅه یې دا ده چې پر کار پوه او مسلکي کسان ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي.

په خصوصي پوهنتونونو کې په کلني ډول د نویو محصلینو جذب تر ډېره په هېواد کې پر امنیتي او اقتصادي حالت پورې تړلې خبره ده. د سادات د لوړو زده‌کړو خصوصي موسسې مالي او اداري مسوول وایي، چې خصوصي پوهنتونونه په کال کې دوه ځله د کانکور ازموینه اخلي، نو دوی هم په کال کې له پنځو سوو نیولې تر ۱۰۰۰ تنو پورې نوي محصلین جذبوي. دی وایي، چې د دغو محصلینو د جذب لپاره ټول هغه امکانات لري، چې اړتیا ورته لیدل کېږي.

د خصوصي پوهنتونونو او د لوړو زده‌کړو موسسې یوه ښېګڼه دا ده چې محصلین یې کولای شي، د زده‌کړو ترڅنګ کار هم وکړي؛ ځکه خصوصي پوهنتونونه تر ډېره د محصلینو په خوښه درسي وختونه برابروي، څو محصل هم زده‌کړې وکړي او هم یې تر څنګ په خصوصي او دولتي ادارو کې کار وکړي. سادات د لوړو زده‌کړو خصوصي موسسې د خپلو محصلینو لپاره د د ورځې په دوو وختونو کې د زده‌کړو زمینه برابره کړې او محصلین زده‌کړو ته ورته راځي.

